د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن
۱۶ سپتمبر ۲۰۱۳

## په سمنګان کې زیارکښه کارګران

## د بیرحمانه زبیښاک قربانیان

په سمنګان ولایت کې د ځايي کارګرانو په وینا د سکرو په یوه کان کې ۲۷ بیوزله کارګران ووژل شول او ۳۰ نور ټپيان شول. دا غمژنه پیښه د دې ولایت د رویی او دوآب ولسوالی د آبخورک سیمې په کان کې د شنبې په ورځ رامنځته شوه. دا کان چې د دولت په واک کې دی او دولت هم د شتمنو او سرمایه دارانو دولت دی ، کارګران یې د نورو کانونو او معادنو په شان په ډیر ناامنه وضعیت کې کار کوي او بیلابیل رنځونه او کړاونه ګالي او د چاروکو لخوا په بیرحمی استثماریږي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن چې د هیواد د زیارکښو انسانانو او په تیره بیا د بیوزلو کارګرانو او دهقانانو د حقوقو د دفاع واقعي انجمن دی، دا پیښه په کلکه غندي او د دې بیوزلو کارګرانو کورنیو، نورو کارګرانو او ټولو خواري کښو انسانانو ته د زړه له کومې تسلیت وایي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن په دې باور دی چې کارګران هغې طبقې پورې تړاو لري چې د نورو ټولو زیارکښو طبقو په مقایسه ډیر دردمن، ستونزمن او کړیدلی او دربدره ژوند لري. دا طبقه په بیرحمه توګه استثماریږي، د امریکایي او ناټویي ځواکونو لخوا وژل کیږي، طالبان یې سرونه غوڅوي او نور زیارکښ دښمنه ځواکونه پر هغې له هیڅ ډول ستم او ظلم څخه ډډه نکوي. د دې جنایتونو تر څنګ، د کارخانو او کانونو، شرکتونو او کمپنیو مالکان او اربابان هم له هغوی سره ډیر بد چلند لري او د دوی د بیوزلی له مجبوریت څخه ګټه پورته کوي او د لږو پیسو په مقابل کې ترې په بیرحمی کار اخلي.

د سمنګان د کان غمژن ناورین د همدې ظالمانه چلند یوه برخه ده. اوسنی دولت چې د امریکایانو او د نورو ناټویي ځواکونو د ډالرو په زور چلیږي، په حقیقت کې د سرمایه دارانو او د ثروتمندانو هغه دولت دی چې د کارګرانو او زیارکښانو سره خواخوږي نشي لری او همدا دی چې په کانونو کې په هر ډول ناامنه وضعیت کې کارګران کار ته اړ باسي او د دې پروا نلري چې د هغوی پر ژوند به څه راشي. په یوه ورځ کې د ۲۷ زیارکښو کارګرانو

دردناکه مرگ او د نژدې دیرشو نور کارگرانو ټپي کېدل، په خپله د کارگرانو د زړه بوږونکي ژوند او د دولتي چارواکو د بیرحمی ښکاره تصویر دی.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن باورمن دی چې کارگران په پیوستون او بیا د د هقانانو او نورو زیارکښانو سره په اتفاق او اتحاد کولای شي د ژغورنې او خلاصون لاره پیدا کړي، که داسې ونکړي همدا ډول به د سکرو لاندې مري، په کارخانو او فابریکو کې به یې لاسونه غوڅیږي او په شرکتونو او کمپنیو کې به یې سپکاوی کیږي؛ که داسې ونکړي نو د امریکا او ناټو طیارې او ټوپکې به ترې هر ورځ مړي اخلي او طالبي انتحار به یې په وینو کې لمبوي؛ کارگران د خپل خلاصون او ژغورنې لپاره له پیوستون او مبارزې بله لاره نلري.

**۲۴- سنبله-۱۳۹۲**